۱ MARIF Weekly

دافغانستان اسلامي امارت

هفته نامه

معارف

اوونیزه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ.ق، شمارهٔ مسلسل " ۲۶۴ " ماه رجب المرجب ۱۴۴۴ هـ.ق

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

## سرلیکنه

### ښوونکي ته درناوی

ښوونه او روزنه په یوه هیواد کې د پرمختګ اساسي او بنسټیزه پدیده ده چې یوازې او یوازې د ښوونکي د هڅو، زحمتونو او کوښښونو په پایله کې ترلاسه کېدای شي زمونږ په هیواد کې تیرو څولسیزو ناخوالو ته په پام سره ښوونکو خپله ایماني او اسلامي دنده او وجیبه په ښه توګه سرته رسولې ده، خو که واقیعت دا دی چې د تېر نظام د پوهنې چارواکو دغه زحمتونو او کړنو ته اصلاً کومه پاملرنه نه ده کړې، همدغه کړنه وه چې اوسمهال زمونږ ښوونکي د کڼو ستونزو او ناخوالو سره مخ دي. ښوونکی دی چې یوه ټولنه د سواد په زیور سینګاروي، ښوونکی دی چې د حیوان او انسان ترمنځ توپیر روښانه کوي، ښوونکی دی چې د شمعې په شان ځان سوځوی خو بل ته رڼا ورکوي، ښوونکي دي چې په انسان کې د اسلام پالنې او وطن پالنې حس را ژوندی کوي ښوونکی دی چې زده کوونکي د خپلې خاورې له تمامیت او ګټو څخه دفاع ته هڅوي. په دې سره که هرڅومره د ښوونکي ستاینه وکړو بیا به هم لږ وي، سږ کال د ښوونکي نړیوالـه ورځ په داسې حال کې ولمانځل شوه، چې یو کال کیږي هیواد مو د امریکایي اشغال له منګولو آزاد او هیواد مو له هر پلوه خپلواک شوی دی. د جنګ جګړې لمنه زمونږ له پاکې خاورې ټوله شوې اوس یوازې د هیواد د بیا رغونې وخت دی او دا کار یواځې د ښوونکي پر قوي او پولادي هوډ سره تر سره کیږي. پوهنې وزارت مشرتابه کلک هوډ لري چې د ښوونکو ستونزې او کومې ننګونې چې دوی ورسره مخ دي ورته ...

پاتې۲مخ

## پوهنې وزارت د کانکور په آزموینه کې په لوړو نمرو سره د لسو تنو بریالیو زده کوونکو ستاینه وکړه

پوهنې وزارت د لسو هغه زده کوونکو د هڅونې په موخه چې د سږ کال کانکور په آزموینه کې یې لوړې نمرې تر لاسه کړې وې د یوې غونډې په ترڅ کې ستاینه وکړه. پدې ستاین غونډه کې د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې او د تضمین کیفیت په معینانو سربیره د ویډله او هغوی یې په راتلونکې کې خپلو مسئولیتونو ته متوجه کړل. نوموړي وویل: تاسو بریالي زده کوونکي د سبا ورځې چارواکي یاست او د ټول ولس د امید سترګې تاسو ته دي هیله مو دا ده چې په راتلونکي کې خپل ولس او هیواد ته په رښتیني او صادقانه ډول خدمت تضمین کیفیت معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق هم په کانکور آزموینه کې په لوړو نمرو سره بریالي شویو زده کوونکو ته د مبارکۍ ترڅنګ وویل: نن ډېر د ویاړ ځای دی چې د تیرو کلونو په پرتله سږ کال د کانکور په آزموینه کې ټول د دولتي ښوونځیو زده



کانکور د آزموینې له لومړی تر لسم نمرې زده کوونکو او د ښوونځیو یو شمیر ښوونکو ګډون کړی وو. د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین الحاج مولوي سخا الله سعید د کانکور په آزموینه کې په لوړو نمرو بریالي شویو زده کوونکو ته مبارکي وکړۍ. د ښوونې او روزنې معین د خپلو خبرو په ترڅ کې زیاته کړه چې هر هیواد د علم پر مټ پرمختګ کوي همدې اصل ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت په هیواد کې د ښوونې او روزنې ودې ته ځانګړې پاملرنه لري. ور پسې د کوونکي په لوړو نمرو بریالي شویدي. هغه زیاته کړه سره له دې چې نړۍ په افغانستان هر اړخیز بندیزونه لګولي مګر د پوهنې وزارت په هڅو او ملاتړ، د ښوونکو د صادقانه زیار او د زده کوونکو د کوښښونو ...

پاتې۲مخ

## د پوهنې وزارت سرپرست وزیر په افغانستان کې د ترکیې هیواد له سفیر سره وکتل

د پوهنې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي الحاج مولوي سید حبیب افغانستان لپاره د ترکیې د معارف بنسټ مشر صالح ساغر او د



الله آغا په افغانستان کې د ترکیې هېواد له سفیر ښاغلی "جهاد ارګیني " او ورسره مل پلاوي سره چې په ترکیب کې یې د سفارت یو شمېر چارواکو ګډون درلود په خپل کاري دفتر کې وکتل. د پوهنې وزارت سرپرست وزیر د ترکیي ...

پاتې۲مخ

## سرپرست وزارت معارف با مسئول یونیسف در افغانستان دیدار کرد

الحاج مولوی سید حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف در دفتر سازمان ملل متحد ( یونیسف) در افغانستان و هیات همراهش دیدار



کارش با محمد آیویا، نماینده یی صندوق حمایت از کودکان کرد. در این دیدار مولوی سید حبیب الله آغا ...

بقیه ص ۴

## د پوهنې وزارت د مقام د دفتر عمومي رئیس په رسمي ډول معرفي شو

د پوهنې وزارت د مقام د دفتر نوی عمومي رئیس ښاغلي مولوي عزیزاحمد ریان د یاد وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي الحاج مولوي حبیب الله آغا له لوري د یو معین الحاج مولوي سخاء الله سعید، د کیفیت د تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق، مرکزي رئیسانو، آمرینو، مدیرانو او د وزارت یو شمېر کارکوونکو



لړ مراسمو په ترڅ کې د وزارت مسئولینو او کارمندانو ته په رسمي ډول معرفي شو. په یادو مراسمو کې د پوهنې وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي حبیب الله آغا، د ښوونې او روزنې ګډون کړی وو. غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه، وروسته د پوهنې وزارت سرپرست وزیر الحاج مولوي حبیب الله آغا وینا وکړه. ...

پاتې۴مخ

## د پوهنې وزارت سرپرست وزیر د اروپایي ټولنې له ځانګړي استازي سره لیدنه وکړه



د پوهنې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي الحاج مولوي حبیب الله آغا په افغانستان کې د اروپایي ټولنې له ځانګړي استازي توماس نیکلسون سره په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه. د پوهنې ښاغلي سرپرست وزیر راغلیو میلمنو ته تر ښه راغلاست ویلو وروسته وویل: افغانستان د نړیوالې ټولنې د یو فعال غړي په توګه له ټولې نړۍ په تیره بیا د اروپایي اتحادیې سره په تعلیمي ډګر کې د نږدې اړیکو او مثبتو تعاملاتو غوښتونکی دی او د پوهنې وزارت به د یادې اتحادیې د مرستندویه فعالیتونو لپاره د یو تسهیل کوونکي او هم غړي کوونکي رول لوبوي. د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې ځانګړي استازي توماس نیکلسون او ورسره مل پلاوي چې په ترکیب کې یې ...

پاتې۴مخ

## تفاهم نامه ساخت پنج باب مدرسه ی دینی به امضاء رسید

وزارت معارف افغانستان و بنیاد خیریه آیدیف کشور ترکیه تفاهم نامه ساخت پنج باب مدرسه ی دینی را که قرار است در پنج ولایت کشور از سوی آن نهاد ساخته شود، امضاء نمود. این تفاهم نامه از سوی محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف و محترم شیخ محمد توران مسئول بنیاد خیریه آیدیف به امضاء رسید. سرپرست وزارت معارف محترم سرپرست وزارت معارف به مسئولان نهاد آیدیف اطمینان داد که وزارت معارف برای تطبیق و عملی نمودن این پروژه سهولت های لازم را فراهم خواهد کرد. گفتنی است که هریک از این مدرسه ها دارای چهار صنف درسی، دیوار احاطه، مسجد شریف، سیستم آب آشامیدنی و دیگر ضروریات میباشند، هزینه ساختِ این



ساخت پنج باب مدرسه ی دینی از سوی بنیاد خیریه آیدیف را یک گام ارزشمند در راستای بلند بردن سطح آگاهی طالب العلمان کشور خوانده و از مسئولان این نهاد سپاسگزاری نمود. مدرسه ها که هر یک آن حدودا مبلغ ۲۵ هزار دالر امریکایی میباشد در کل ۱۲۵ هزار دالر امریکایی تخمین شده است که از سوی بنیاد خیریه آیدیف کشور ترکیه تمویل میشود.

## دیدار معین منابع و اداره وزارت معارف از "حوزه علمیه محمدیه" ولایت غزنی

شیخ مولوی سعید احمد شهید خیل معین منابع و اداره وزارت همیشه تلاش دارد تا در بخش تمویل و رشد مدارس دینی



معارف و هیئت همراه شان هریک مولوی عبدالقدوس قدوسی رئیس دارالعلوم ها، الحاج عبدالرحمن حمیدی رئیس تعلیمات خصوصی ومولوی محمد رحیم ایوب رئیس تقنین و پالیسی وزارت معارف که در حال بررسی مدارس ولایت غزنی بودند از مدرسه حوزه علمیه محمدیه نیز دیدن نمود. معین وزارت معارف در این دیدار تصریح کرد که وزارت معارف اقدامات لازم و به موقع انجام دهد. در این دیدار از سوی هیئت برای مسئول مدرسه یاد شده یک مقدار پول نقد به هدف فراهم نمودن اعاشه شاگردان و ترمیم مدرسه یاد شده کمک شد. قابل یاد دهانیست که حوزه علمیه محمدیه در سال ۱۳۹۷ خورشیدی در مرکز ولایت غزنی تأسیس شده و در حال حاضر ۶۵ شاگرد در این مدرسه مشغول فراگیری علم هستند.

## پوهنې وزارت د کانکور ...

دلومړي مخ پاتي

په پایله کې له دولتي ښوونځیو څخه په کانکور آزموینه کې په لوړو نمرو زده کوونکي بریالي کیږي. د تضمین کیفیت معین د کانکور بریالیو زده کوونکو ته وویل: په راتلونکي کې د هیواد او ولس خدمت په پوره اخلاص تر سره کړئ. هغه زیاته کړه له تاسو د اسلامي امارت د چارواکو ستاینه او تقدیر پدې معنی دی چې اسلامی امارت ستاسو تر څنګ ولاړ دی او د پوهنې وزارت به تاسو ته د زده کړو لا زیاته زمینه برابروي. د غونډې په بهیر کې د کانکور په آزموینه کې لسو تنو په لوړو نمرو بریالیو زده کوونکو هم د پوهنې وزارت له چارواکو مننه وکړه چې دوی یې وستایل. یادو زده کوونکو هم په خپل وار سره لنډې ویناوې وکړې او ژمنه یې وکړه چې دوی به په راتلونکي کې دې ځوریدلي ولس ته خدمت کوي. هغوی د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: دوی به د هیواد په بیا رغاونه کې برخه اخلي او هیڅکله به هیواد پرې نږدي بلکه دوی به د نورو هیوادوالو په مرسته خپل هیواد ته خدمت وکړي ترڅو هیواد مو د پرمخ تللو هیوادونو په کتار کې ودریږي. د غونډې په پای کې هغه ستاینلیکونه او ډالۍ چې د پوهنې وزارت لخوا یادو زده کوونکو ته په پام کې نیول شوي وي د پوهنې وزارت د چارواکو لخوا په زده کوونکو وویشل شوې.

## د پوهنې وزارت د کیفیت د تضمین معینیت معین په رسمي ډول معرفي شو

د پوهنې وزارت د کیفیت د تضمین معینیت معین ښاغلی الحاج مولوي عبدالخالق صادق د یو لړ مراسمو په ترځ کې د یاد وزارت مسؤلینو او کارمندانو ته په رسمي ډول مولوي حبیب الله آغا وینا وکړه. نوموړي په خپله وینا کې هر مسؤلیت یو امانت وباله او زیاته یې کړه چې د خوښي ځای دی چې په اسلامي امارت کې تولې ټاکنې



وروپېژندل شو. په یادو مراسمو کې د پوهنې وزارت سرپرست وزیر، د چارو د اداري لوی رئیس، د پوهنې وزارت مرکزي رئیسانو، آمرینو، مدیرانو او کارمندانو برخه اخېستې وه. په دې غونډه کې د پوهنې وزارت سرپرست وزیر ښاغلي الحاج د تعهد او تخصص یا په بل عبارت د تقوا او کاري وړتیا په اساس سرته رسیږي. نوموړي د پوهنې وزارت د کیفیت د تضمین معینیت معین د یادې دندې د سرته رسولو لپاره یو وړ شخص وباله او نوموړي ته یې د الله تعالی له درباره د توفیق ...

بقیه ص ۴

## دیدار معین تعلیمات اسلامی از برگزاری رقابت های سیرت النبی(ص)

الحاج مولوی کرامت الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف، از برگزاری رقابت های سیرت النبی (ص) که به سرپرستی ریاست دارالعلوم های وزارت معارف و اهتمام مسئولین و استادان دارالعلوم امام ابوحنیفه (رح) به صورت امتحان تحریری میان شاگردان صنوف دهم ، یازدهم و دوازدهم آن دارالعلوم راه اندازی گردیده بود، دیدار نمود.معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف در جریان بازدید از روند برگزاری این مسابقات ، از برگزار کننده گان و دست اندر کاران این رقابت ها اظهار امتنان کرده و راه اندازی همچو رقابت های علمی را در ترویج علوم اسلامی و همگانی نمودن سیرت النبی (ص) در بین اجتماع وامورات روزمره مؤثرعنوان کرد وآشنایی جوانان را با سیرت و سنت آن حضرت (ص) ضرورت مبرم دانست معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف افزود: که سلسله برگزاری این رقابت ها در آینده در مرکز و ولایات نیز توسعه خواهد یافت. قابل یاد آوریست که چندی پیش رقابت های مشابه میان شاگردان دارالعلوم عربی کابل نیز برگزار گردیده بود.



## د ښوونې او روزنې معین د جاپان هیواد له مرستیال سفیر سره وکتل

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معین ښاغلي الحاج مولوي سخاءالله سعید په افغانستان کې د جاپان هیواد له مرستیال سفیر ښاغلي تاکویا تانیموتود سره وکتل. په یاده لیدنه کې لومړی د ښوونې او روزنې معین مرستیال سفیر ته د هرکلي ویلو په ترځ کې وویل د جاپان هیواد تل له افغانستان سره مثبتې اړیکې درلودې او اسلامي امارت هم په دې هڅه کې دی چې له یاد هیواد سره د دوه اړخیزو همکاریو او متقابل احترام په بنسټ نږدې اړیکې ولري. وروپسې د جاپان هیواد مرستیال سفیر خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې وویل جاپان غواړي د تل په څېر افغانستان د ښوونیز نظام څخه ملاتړ وکړي، چې د پوهنې وزارت او جاپان سفارت د مسئولینو تر منځ په راتلونکو ملاقاتونو کې به د ملاتړ د کمیت او کیفیت په اړه تفصیلي خبرې کیږي.



## د پوهنې وزارت سرپرست وزیر د ترکیې هیواد ...

دلومړي مخ پاتي

هیواد سفیر او ورسره مل پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو په ترځ کې وویل: د ترکیې هیواد او افغانستان د تاریخ په اوږدو کې دوست هیوادونه پاتې شوي او یو له بل سره د ډیرو مشترکاتو درلودونکي دي، د پوهنې سرپرست وزیر همدارنګه د ترکیې د معارف بنسټ د ښوونیزو فعالیتونو هم ستاینه وکړه او د یاد بنسټ ښوونیز خدمتونه یې معیاري او غوره وبلل.وروپسې د ترکیې هیواد سفیر" جهاد ارګیني " د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: د ترکیې ښوونیز بنسټ په افغانستان کې ۴۷ بابه ښوونځي لري چې ټولټال (۶۸۰۰ ) تنه افغان زده کوونکي په یادو ښوونځیو کې په زده کړو بوخت دي، چې د یاد شمېر زده کوونکو ښوونیز بهیر او خدمتي چارې د (۱۰۰۰) تنو ښوونکو او خدماتي کارکونکو لخوا پر مخ وړل کیږي. نوموړي زیاته کړه، د ترکیې ښوونیز بنسټ چمتو دی په هغه هوکړه لیک کې چې په ۲۰۱۸م کال د ترکیې د معارف بنسټ او د کابل مخکنۍ اداري ترمنځ لاسلیک شوی بدلون راولي. نوموړي زیاده کړه: هیواد یې پدې وروستیو کې د جوزجان، ننګرهار او هلمند په ولایتونو کې درې بابه نوي ښوونځي پرانیستي او په پام کې لري چې په نږدې راتلونکې کې د خوست، هلمند او جوزجان په ولایتونو کې هم درې بابه نوي ښوونځي پرانیزي.

## کابل ښار د ښوونځیو تر مینځ د سیرت النبي (ص) د سیالیو د وروستي پړاو په مناسبت غونډه جوړه شوه

د کابل ښار پوهنې ریاست کې د ښوونځیو د زده کوونکو تر منځ د ( سیرت النبی ص ستوري ) تر نامه لاندې د وروستي پړاو سیالیو پای ته رسیدو په مناسبت غونډه تر سره شوه. د زده کوونکو د وړتیاوو او استعدادونو د ودې او لوړولو په پار د کابل ښار د پوهنې ریاست د پروګرامونو په لړ کې دا ځل یاد ریاست د کابل ښار د دولتي او خصوصي ښوونځیو له اووم تر دولسم ټولګي پورې د زرګونو زده کوونکو تر منځ د رسول الله ص د سپیڅلي سیرت سیالي د ( سیرت النبي ص ستوري) تر نامه لاندې سیالی پیل کړې. دغه سیالۍ په دریو پړاوونو کې د کابل ښار د پوهنې ریاست د ښوونځیو، تعلیمي حوزو او د ریاست په کچه په لار اچول شوې وې چې د یوې مسلکي کمیټې لخوا یې د غوراوي او مدیریت چارې په ښه ډول تر سره شوې. ددې سیالیو په پای کې لس تنه غوره زده کوونکي د غوراوي کمیټې لخوا بریالي اعلان شول چې د دوی د هڅونې په موخه د کابل ښار د پوهنې ریاست په تالار کې غونډه تر سره شوه. پدې غونډه کې د پوهنې وزارت د تضمین کیفیت معین ښاغلي الحاج مولوي عبدالخالق صادق، د پوهنې ریاست چارواکو، کارکوونکو، د ښوونیزو حوزو آمرینو، د ښوونیزو حوزو د ځار آمرینو، د کابل ښار د یو شمېر ښوونځیو ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی وو. پدې غونډه کې د کابل ښار د پوهنې ریاست رئیس مولوي احسان الله خطاب راغلو میلمنو ته د ښه راغلاست ویلو په ترځ کې ددې غونډې د جوړیدو او د سیالیو د بهیر په اړه معلومات وړاندې کړل. وروپسې د پوهنې وزارت د تضمین کیفیت معین ښاغلي الحاج مولوي عبدالخالق صادق د پوهنې وزارت د مشرتابه په استازیتوب، د کابل ښار د پوهنې د رئیس او نورو چارواکو له غوره خدمتونو او ګټورو ښوونیزو او روزنیزو پروګرامونو په لاره اچولو څخه مننه وکړه او د الله تعالی له دربار څخه یې ټولو ته د لا زیاتو بریاوو او توفیق غوښتنه وکړه او هم یې د انسانیت د ستر لارښود، حضرت محمد مصطفی (ص) د سیرت، کړنو، سیاست، اخلاقو، ټولنیز ژوندانه او له ویاړه ډکو کارنامو په اړه ګڼونوالو ته عالمانه وینا وکړه. د غونډې په بهیر کې د کابل ولایت د جهادي مدرسې استاد شیخ مولوي عبدالسمیع غزنوي د رسول اکرم (ص) په غوره شخصیت، نیکو اخلاقو، سیاست، حکومتولی، اسلامي مبارزه، ټولنیز ژوند او د سیرت النبي (ص) له نورو برخو ...

پاتې ۴ مخ

## ښوونکي ته ...

دلومړي مخ پاتي

د پای ټکی کیږدي او د امکان تر بریده به هڅه کوي چې د هیواد بچیانوته د زده کړې لپاره یو سالم اوخوندي چاپېریال برابر کړي، ټولې هغه ستونزې چې اوس ورسره لاس او ګریوان یو د لوی الله(ج) په نصرت به پای ومومي او په دې برخه کې د پوهنې وزارت سره د ولس دوامدار ملاتړ خورا ارزښت لري په همدې بنسټ ولس باید چې له دغه ستر کاروان سره خپلې هر راز مرستې جاري وساتي په ښوونځیو کې هر وخت د خپلو بچیانوخبر واخلي اوکومې ستونزې چې د دوی د بچیانو په مخ کې پرتې دي د ښوونځي له مسؤلینو سره شریکې کړي تر څو د حل یوه معقوله لار ورته پیدا شي. پوهنې وزارت مشرتابه هم له درنو ښوونکو څخه غواړي چې د زده کړې بهیر په عالي او ښه کیفیت سره جاري وساتي، په اوسنیو شرایطو کې چې تر بل هروخت زده کړو ته ښه او مناسب شرایط برابر شوي دي او په ټول هیواد کې د سولې او امنیت فضا حاکمه ده، نو لازمه ده چې له دې ستر او طلایي فرصت څخه ګټه پورته کړو او د علم او پوهې ډیوه د هیواد په ګوټ ګوټ کې روښانه کړو تر څو د هیواد بچیان د پوهې له دغه ستر نعمت څخه برخمن شي او دغه موخې ته د رسیدو په لارکې د ښوونکو رول د پام وړ دی او په دغه لار کې له هیڅ راز هڅو او کوښښونو څخه ځان ونه سپموي تر څو مو هیواد د ترقۍ او پرمختګ لوړو مدارجو ته ورسیږي. ان شاء الله

## د پوهنې وزارت د مشرتابه پنځمه غونډه ترسره شوه

د پوهنې وزارت د مشرتابه پنځمه غونډه د پوهنې وزارت د سرپرست وزیر ښاغلي الحاج مولوي حبیب الله آغا په مشرۍ ترسره شوه. په یاده غونډه کې د کلیوالي مدارسو لپاره د ترتیب شوي نصاب د تصحیح او چاپ، د جهادي مدارسو د کلنیو آزموینو، د ژمنیو او د رخصتیو پر مهال د جهادي مدارسو د استادانو د معاشونو د تادیې، د اسلامي زده کړو معینیت لپاره د یوې مناسبې ودانۍ د پیدا کولو او ځینو نورو مسایلو په اړه بحث وشو. د اسلامي زده کړو د معین الحاج مولوي کرامت الله آخند زاده په مشرۍ ټاکل شوي کمېسیون ته دنده وسپارل شوه ترڅو د کلیوالي مدارسو د نصاب د کتابونو کتنه او تصحیح بشپړه او چاپ ته چمتو کړي. پرېکړه وشوه چې د اسلامي تعلیماتو د معینیت لپاره د مناسبې ودانۍ د پیدا کولو موضوع دې چارو د اداري لوی ریاست ته ولیږل شي ترڅو د کابینې په راتلونکې غونډه کې وربانديې بحث وشي او په اړه یې تصمیم ونیول شي. د ژمي په رخصتیو کې د جهادي مدارسو د استادانو د معاشونو د تادیې په اړه پرېکړه وشوه چې په یاده موضوع کې دې د اسلامي امارت له مشرتابه څخه هدایت وغوښتل شي.

اگر تخم مرغ توسط یک نیروی بیرونی شکسته شود، جوجه می‌میرد. اما اگر توسط یک نیروی درونی شکسته شود، زندگی آغاز می‌شود.
اتفاقات بزرگ وعالی، همیشه از درون شروع می‌شوند.

### کامیاب ژوند کوم ژوند دی؟

پوهان وايي ژوند د لوړو او ژورو څخه تېرېدل دي، د سختۍ ګالل او په خپل دغه مؤقت وخت کې خپل ټاکلي هدف ته رسيدل دي، نو کامياب ژوند هم هماغه ژوند دی چې په کې خپلې ټاکلې موخې ته ورسيږو.
کامیاب ژوند هماغه ژوند دی چې په ځلونو له سختو ازموينو بريالي ووځو.
کامياب ژوند یو قوي نه ماتيدونکي انسان ته ضرورت لري، داسي انسان که يې څو ځلې هم د هېلو او اميدونو بيړۍ په دغه ستر درياب (ژوند) کې غرقه شي، خو بيا هم نه ناهيلی کيږي.
کامياب ژوند داسي انسان ته ضرورت لري، چې قوي عزم او د ماتې زغملو وړتيا ولري، له هرې ماتي وروسته بيا د بريا په تکل شي، له هرې ماتې زده کړه وکړي او د ژوند په هماغه ګړنګ بيا نه ورځې چې يو ځلې ترې غورځيدلی وي.
نو راځئ چې په ژوند کې د کاميابو خلکو ځانګړني په ځان کې پيدا کړو، د قوي عزم او غښتلي ارادې څښتنان شو، حوصله پيدا کړو او له هر لوېدو وروسته د بېرته پورته کېدو چل زده کړو، ماته ونه منو د نورو له تجربو ګټه واخلو او ځان د تجربو قرباني نه کړو.

استعداد چیزی است که در جوانی پیدا می‌شود، اگر آن را تربیت کردید و درصدد تقویت آن برآمدید مانند بذری است که در مزرعه خوب کاشته شده باشد، محصول خوب خواهد داد و اگر آن را به حال خود گذاشتید و آن را تربیت نکردید مانند تخمی است که در زمین شوره زار افتاده باشد، از بین می رود و محصول نمی دهد.

### شتمن څنګه فقير او فقير څنګه شتمن کيږي
### «له پنده ډکه کيسه»

ژباړه: فضل باري مشفق

علامه ابن جوزي (رح) فرمايي: يوه ورځ په اصفهان کې يوه شتمن سړي له خپلې ميرمنې سره په کورکې ډوډۍ خوړله چې په دې وخت کې يوه فقير د خيرات غوښتلو له پاره غږ وکړ. دغه شتمن سړي خپلې ميرمنې ته امر وکړ چې د دغه دسترخوان ټول خواړه دغه فقير ته ورکړي. ميرمن يې د خپل خاوند امر عملي کړ او د دسترخوان ټول خواړه يې راټول او فقير ته ورکړل. کله چې د شتمن سړي ميرمن فقير ته خيرات ور ويست ګوري چې فقير ژاړي او اوښکې يې بهيږي. شتمن سړي له خپلې ميرمنې څخه وپوښتل چې فقير څوک وو؟ ميرمن يې ځواب ورکړ دغه کوم فقير چې اوس زموږ دروازې ته راغلی وو تر دې وړاندې ددې ښار يو ډېر شتمن سړی او زموږ ددغه کور مالک او زما خاوند وو. ميرمن يې زياته کړه: څو کاله وړاندې چې موږ په دې کور کې اوسېدو يو فقير سړی راغی او زموږ د کور دروازه يې وټکوله ويل يې چې له دوه ورځو راهيسې يې څه نه دي خوړلي او له سختې لوږې سره مخ دی، له موږ څخه يې د خوراک له پاره د الله (ج) په نامه څه وغوښتل، زما خاوند ور ووت ملنګ يې دومره وواهه او وراټه چې ويني يې پرې وبهولې، مګر پوی نه شو چې هغه فقير زما پخواني خاوند ته څه ډول بده دعا وکړه چې اوس هغه خيراتونه ټولوي؟ له هغې ورځې وروسته زما ددغه شتمن خاوند حالات بدل شول، کار روزګاريې ختم شو، خپل کوريې هم له لاسه ووت، د غربت او فقر لوري ته يې مخه شوه، ماته يې هم طلاق راکړ او بيا له څو کلونو وروسته ستا په نکاح کې شوم. خاوند چې دخپلې ميرمنې دغه خبرې واورېدې ويې ويل: ايا زه تاته له دې زياته حيرانونکې خبره ونه کړم؟ ميرمن يې ورته وويل: هو ولې نه. خاوند يې وويل: هغه فقير چې ستا پخواني خاوند وهلی او رټلی و هغه بل څوک نه و مګر همدا زه وم. د زمانې اوښتون يوه نا اشنا صحنه وړاندې کړه، الله (ج) هغه کبرجن شتمن دومره ذليل کړ، چې د مال او دولت ترڅنګ يې ورڅخه ميرمن هم واخيسته، بيرته يې دغه فقير شتمن کړ او هغه شتمن يې ددغه فقير دروازې ته د خيرات غوښتلو له پاره ودراوه. الله هغه ذات دی چې په هر څه باندې قادر دی، هر څه کولای شي.

نن ټکی اسیا

اگر فکر می کنی
خوشبختی دوراز دسترس است،
بدان: بزرگترین خوشبختی مخلوق بودن
انسان بودن"است"
و شانس آن را خداوند در
میان‌مخلوقاتش؛ به تو داده است!

اگر می‌خواهید زندگی شادی داشته باشید،
آن را به یک هدف گره بزنید نه به افراد
یا چیزهای دیگر. (آلبرت انیشتین)



### د کتاب پاڼې

د کـــــتاب پاڼو کښې څومره ښه ښـــــکلا ده
چې شـــــــروع ئې په بسم الله نوم د الله ده

ګونګ ګويان شـــــــي په ليدلو او کتويې
د کـــــــتاب برکـــــت دومره استثنا ده

په لوستو ئې تاج په سر بعضې شاهان شـــول
بـــعضـــــې ګـــــوره د عالم اوس رهنما ده

د تيارو لارو مشـــــعل دی په نړۍ کــــــښې
ښه لارښـــــــــود هم د دنيا هــم د عقبا ده

پاڼوټکو کښــــــــې لذت د ژوندون پروت دی
ترئي زدکــــړه دغه چاره د هــــــــر چا ده

د ښـــــوونکي منزلت ته احـــــــترام دی
تياره شـــــــپه که رڼا ورځ او که صبا ده

نه شـــــي نه شـــــي بی کتابه ژوندون نشي
که ئې کاندي څـــــــوک همه واړه خطا ده

محمد اکرم " وفادار "

### له ماشومانو سره په لوړ غږ خبرې مه کوئ

دا خبره ډېره مشهوره ده، هغه شخص چې په لوړ غږ او چيغو سره خبرې کوي، هغوی د کمزوري شخصيت څښتنان وي، دا ډول خلک دليل نه لري او په لوړ غږ خپلې کمزورۍ او نيمګړتياوې پټوي. په دې ډول هغه کسان



چې پر ماشومانو غوسې کوي يا په لوړ غږ ورسره خبرې کوي، دا يوه داسې پخوانۍ او دوديزه طريقه ده چې مثبتې پايلې نه لري، بلکې رواني ستونزې زيږوي. نو اړينه ده چې له ماشومانو سره له دا ډول چلند څخه ډډه وکړو، څو د هغوی دننه چال، چلند ښه شي. د رواني نارغيو متخصصان هم لارښوونه کوي چې له ماشومانو سره دې سخت چلند او په لوړ غږ خبرې ونه شي او له زيانونو څخه يې د ژغورلو طريقه هم ښودلې ده. کله چې کورنۍ پر ماشومانو چيغې وهي، نو په همدې سبب هغوی تل د ماشومتوب بدې خاطرې يادوي او په ځان باور له لاسه ورکوي. دغه راز پر ماشوم چيغې وهل نه يواځې د هغوی کورنۍ ژوند اغېزمنوي، بلکې له کوره بهر هم له ستونزو سره مخ کيږي.

چه زیباست
زندگی کردن با امید...
نه امید به خود؛
که غرور است!
نه امید به دیگران؛
که تباهی است!
بلکه امید به خدا؛
که خوشبختی است

دلهایی که روی آن کلمه تقوا و محبت نوشته شده باشد به هرجایی که بخواهند پرواز می‌کنند و کائنات در مقابل آنها سرتعظیم فرود می‌آورند.

# په نورستان ولایت کې UNHCR یو شمېر ښوونځي په عصري تکنالوژۍ سمبالوي

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنري یا UNHCR په پام کې لري چې د نورستان ولایت د مرکز پارون ښار یو شمېر ښوونځیو کې په عصري تکنالوژۍ سمبال ټولګي پرانیزي، یاد ټولګي به په کمپیوټر، انټرنیټ مجهز لابراتوار او کتابتون سمبال وی. د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنرۍ UNHCRآستازو د نورستان ولایت د پوهنې رئیس مولوي تاج محمد مطمئن سره د لیدنې پر مهال ددې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او یاده پروژه یې د ښوونځیو د زده کوونکو د وړتیاوو په وده کې ګټوره وبلله، نوموړي وویل: د یادې پروژې په پلی کیدو سره به نوی نسل د عصري تکنالوژۍ په مټ له نړۍ سره ونښلول شي. د نورستان ولایت د پوهنې رئیس د UNHCR له استازو د مننې ترڅنګ وویل: یاد سازمان تل له افغانانو سره په بیلابیلو برخو کې مرسته کړې او هیله یې وکړه چې دا مرستې لا پراخه او جاري وساتي. نوموړي یاده پروژه ارزښتناکه وبلله او د UNHCR استازو ته یې ډاډ ورکړ چې په ښوونځیو کې د ورته پروژو د پلي کولو په برخه کې د نورستان ولایت د پوهنې ریاست له دوی سره همکار دی او دوی ته به لازمي آسانتیاوې برابرې کړي. همدارنګه د نورستان ولایت د پوهنې ریاست د ښوونې او روزنې آمر سید رسول "عابد" هم د UNHCR له چارواکو څخه د یادې پروژې د پلي کیدو په پار مننه وکړه او له هغوی څخه یې د یاد پروګرام د پراختیا غوښتنه وکړه ترڅو د مرکز په څېر د نورو ولسوالیو زده کوونکي هم له دې علمي پروګرامونو څخه برخمن شي.



## د پوهنې وزارت د کیفیت ...

پاتې۲مخ

او نصرت غوښتنه وکړه. وروسته د چارو د اداري لوی رئیس شیخ مولوي نورالحق انور وینا وکړه، او په خپله وینا کې وویل چې په هر نظام کې بدلون او تقرر یو اصل دی او هره دنده یو امتیاز نه، بلکې یو مسئولیت دی. ورپسې د پوهنې وزارت د نشراتو د رئیس مولوي عزیزاحمد ریان له لوري د الحاج مولوي عبدالخالق صادق ژوند لیک او د نوموړي د ټاکنې په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین حکم ولوستل شو. د غونډې په پای کې الحاج مولوي عبدالخالق صادق وینا وکړه او په خپله وینا کې یې د اسلامي امارت او پوهنې وزارت د مشرتابه له اعتماد څخه مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د خپلې دندې په صحیح ډول اجراء کې به پوره هڅه او هاند کوي او هم یې د یادې دندې د سرته رسولو په برخه کې د وزارت د مشرتابه او نورو مسئولینو د همکارۍ غوښتنه وکړه.

## د پوهنې وزارت د مقام د دفتر ...

دلومړي مخ پاتې

نوموړي په خپله وینا کې هر مسئولیت یو امانت او ازموینت وباله او نوي رئیس ته یې د الله تعالی له درباره د توفیق او نصرت غوښتنه وکړه. وروسته د یاد وزارت د ښوونې او روزنې معین الحاج مولوي سخاء الله سعید لنډې خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې تغیر، تبدیل، تنزیل او ترفیع په هر نظام کې یو اصل وباله او د دفتر د نوي عمومي رئیس ټاکنه یې یوه پرځای او سنجول شوې ټاکنه وبلله. ورپسې د یاد وزارت د کیفیت د تضمین معین الحاج مولوي عبدالخالق صادق وینا وکړه، نوموړي وویل چې د دفتر ریاست د وزارت د مقام دروازه او یو کلیدي ارګان دی او نوی رئیس یې د یاد مسئولیت د سمبالولو لپاره یو وړ شخص وباله. وروسته د دفتر عمومي رئیس عزیزاحمد ریان هم وینا وکړه، نوموړي په خپله وینا کې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء او د پوهنې وزارت د مقام له اعتماد څخه مننه وکړه او د وزارت له مسئولینو څخه یې د نوي ورسپارل شوي مسئولیت د اداء کولو په برخه کې د مرستې او لارښوونو غوښتنه وکړه. د یادونې وړ ده، چې د پوهنې وزارت د دفتر نوي عمومي رئیس دکابل تر فتحې وړاندې د ښوونې، روزنې لوړو زده کړو کمېسیون د اداري د رئیس په توګه دنده اجراء کوله. د کابل تر فتحې وروسته د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې معینیت د دفتر د مسئول په توګه، وروسته د پوهنې وزارت د نشراتو د رئیس او ویاند په توګه او د ۱۴۴۴ هـ.ق کال د ربیع الثاني د میاشتې په ۲۹مه نېټه د پوهنې وزارت د مقام د دفتر د عمومي رئیس په توګه وټاکل شو.

## کندهار کې د پوهنې د اهمیت په اړه غونډه تر سره شوه

دکندهارولایت د دامان ولسوالۍ د پوهنې آمریت په تالار کې د پوهنې د اهمیت په اړه غونډه تر سره شوه یاده غونډه چې د OCCD موسسې په مالي لګښت په لاره اچول شوې وه د پوهنې آمر مفتي عبدالواحد احمد سعید، د یادې ولسوالۍ مرستیال، امنیه قومandانۍ استازي، یو شمېر علماوو او قومي مشرانو ګډون کړی وو. وروسته د پوهنې آمر د پوهنې د ارزښت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او د OCCD موسسې له استازو څخه یې مننه وکړه چې د عامه پوهاوي په اړه یې دا ډول پروګرامونه په لاره اچولي دي نوموړي په خپله وینا کې وویل: د پوهنې پرمختګ د ولس له همکارۍ پرته شونې نه دی، د پوهنې وزارت رهبري ژمنه ده چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د پوهنیز نظام ستنې ټینګې او د پوهنې کاروان د هیواد تر هرې سیمې ورسوي.

## ده ها هزار جلد کتب درسی مکاتب از صنف اول الی دوازدهم به ریاست معارف ولایت پنجشیر انتقال داده شد

بیش از یک صد هزار جلد کتب درسی صنف اول الی دوازدهم به ریاست معارف ولایت پنجشیر انتقال وتسلیم داده شد. مولاناغلام ایشان حماس رئیس معارف ولایت پنجشیرگفت : این کتاب ها شامل پروژه ۳۷میلیون جلد کتب درسی درسطح کشوربوده که درکشورهندوستان چاپ گردیده است. وی افزود: مقام رهبری وزارت معارف امارت اسلامی افغانستان مطابق سهمیه به تعداد مجموعی (۲۱۵۶۹۵) جلد کتب درسی صنوف اول الی دوازدهم رابه مکاتب این ولایت درنظرگرفته که یکصدهزار آن به ریاست معارف ولایت پنجشیر انتقال وتسلیم داده شد وی افزود : متباقی کتب درسی درآینده های نزدیک به این ریاست انتقال میگردد. رئیس معارف ولایت پنجشیر همچنان گفت: کتب درسی متذکره بعدازهدایت مقام رهبری وزارت معارف به مکاتب ولایت پنجشیرتوزیع میگردد درصورت دریافت مقدارسهمیه تعین شده ازسوی وزارت معارف امارت اسلامی افغانستان به این ریاست ۸۵ در صد مشکلات کمبود کتب درسی درتمام مکاتب ولایت پنجشیرمرفوع میگردد.



## گشایش نخستین نمایشگاه آثار هنری در مدرسه دارالعلوم هرات

برای نخستین بار نمایشگاه آثار هنری شاگردان مدرسه دارالعلوم در ولایت هرات از سوی مسئولان ریاست



معارف و شماری از علمای کرام و شخصیت های علمی گشایش یافت. مولوی اختر محمد اکبری آمر تعلیمات اسلامی ریاست معارف ولایت هرات حین افتتاح این نمایشگاه، ضمن تمجید از ابتکار و خلاقیت طالب العلمان این مدرسه، راه اندازی این چنین نمایشگاه ها را در رشد و توانمند سازی استعداد های طالب العلمان مدارس ارزشمند خوانده و از مسئولان مدرسه بخاطر برگزاری این نمایشگاه سپاسگزاری نمود. قابل ذکر است که این اولین نمایشگاه آثار هنری و صنایع دستی شاگردان یک مدرسه است که در هرات برگزار میگردد.

## سرپرست وزارت معارف با مسئول یونیسف ...

دلومړي مخ پاتې

سرپرست وزارت معارف از انجام فعالیت های یونیسف در جریان سال های متمادی در بخش تعلیم و تربیه در افغانستان سپاسگذاری کرد. در این دیدار سرپرست وزارت معارف از تمامی نهاد های خیریه بین المللی که نظام آموزشی افغانستان را کمک میکند قدردانی نموده و وعده سپرد که برای تطبیق برنامه های آن ها تمامی تسهیلات لازم را فراهم میکند. در این دیدار نماینده یونیسف درافغانستان گفت: این نهاد به طور دوامدار معارف افغانستان را همراهی و از آن حمایت میکند. آقای محمد آیویا افزود: تلاش خواهد کرد که تمامی نهاد های تمویل کننده یی جهانی را تشویق نمایند تا از نظام آموزشی در افغانستان حمایت کنند.

## د پوهنې وزارت سرپرست وزیر د اروپایي ...

دلومړي مخ پاتې

رافیلا لوډیس او جیني ګری هم ګډون درلود د پوهنې ښاغلي سرپرست وزیرته د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د مرستندویه پروګرامونو په هکله معلومات وړاندې کړل او ژمنه یې وکړه چې نړیواله ټولنه به له افغانستان سره د یو متحد په توګه د همکاریو دروازه د تل لپاره پرانیستې ساتي.

## کابل ښار د ښوونځیو ...

پاتې۲مخ

یادونه وکړه. نوموړي زیاته کړه د حضرت محمد مصطفی (ص) د بشریت ستر لارښود او حقیقي معلم وو او د اقتصاد، سیاست، ټولنیز ژوند، اعتقاداتو اود ژوندانه په ټولو ډګرونو کې یې انسانان په تیره بیا د جزیرة العرب خلک د تیارو څخه رڼا ته او د انسان له عبادت څخه د الله تعالی عبادت ته دعوت کړل او دوی ته یې د ژوندانه اصول او ورسره د دنیا او آخرت د سعادت لارې وښودې. نوموړي زیاته کړه چې د پیغمبر(ص) په سیرت باندې پوهه او علم حاصلول د ښوونکو لپاره اړین دي تر څو لومړی د رسول الله ص سیرت په خپل ژوند کې عملي او بیا یې خپلو زده کوونکو ته هم ور زده کړي. ورپسې د حضرت محمد مصطفی (ص) په ستاینه کې زده کوونکو هم په خپل وار سره ترانې او مقالې ولوستلې، همدارنګه د غونډې د پای په شیبو کې د یادې سیالۍ په لس غوره زده کوونکو د کابل ښار د پوهنې ریاست له لوري په پام کې نیول شوې ډالۍ، نقدي مکافات او ستاینلیکونه وویشل شول.

NEWSPAPER
Marif
Weekly
BETTER EDUCATION-BETTER FUTURE

**پته:** د کابل ښار، غازي محمدجان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت
**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمائید.
**ایمیل آدرس:** Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

**عکاس:**
محمد اشرف " رسولي "
محمد ادریس " نوري "
**ډیزاینر:**
حمیدالله " مسعود "
تیراژ: ۲۰۰۰

**مسئول مدیر:**
سعید "جلال"
**کتنپلاوي:**
مولوي عزیز احمد "ریان"
معراج "زماني"
د سر مؤلف مرستیال عنایت الله "عادل"
محمد اکرم "وفادار" ــ محمد نسیم "عیاذ"
عبدالصبور "غفراني"